# اباديِ

پنځلس ورځنۍ

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنۍ

ګڼه: ۰۴ | مسلسل نمبر: ۱۴۲

چهارشنبه، ذوالقعدة الحرام۱۹مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## د امارتي ادارو د مکاتیبو او اداري اسنادو د مدیریت برېښنايي سیستم تایید شو



۲ صفحه

## تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۲,۸ میلیارده افغانیو په لګښت ۱۹ پروژې منظورې کړې



۲مه صفحه

## د یتیم تاق سیمنټو تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وشوه



۳مه صفحه



## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په اوومه نېټه په جوزجان ولایت کې د یتیم تاق سیمنټو تولیدي فابریکې د جوړېدو چارو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد د اقتصادي ودې او په تدریجي توګه د تولیدي اقتصاد پر لور د چټکو ګامونو اخیستو لپاره د کورني صنعت پیاوړي کېدل او له کورنیو تولیداتو ملاتړ مهم وبلل او د دې جدي اړتیا پر حل یې ټینګار وکړ. صنعت د هېوادونو په اقتصادي وده کې ستره ونډه لري. د هر هېواد د پرمختګ کیلي، صنعت دی او څومره چې د صنعت برخه پیاوړې او پرمختللې وي، هغومره اقتصادي وده هم چټکه وي. افغانستان د بشري ځواک، طبیعي زېرمو او سرچینو، کانونو او ځنګلونو له اړخه یو غني هېواد دی او له دې هر څه نه د صنعت په برخه کې پوره ګټه پورته کېدای شي، خو له دې زېرمو لکه ځنګه چې په کار ده، استفاده نه ده شوې. خو د اسلامي امارت په راتګ سره، پورتنیو ټولو برخو ته پاملرنه شوې او اوسمهال د دې ټولو له عوایدو څخه د هېواد د پرمختګ په لاره کې ګټه پورته کیږي. د هېواد په کچه د طبیعي زیرمو مدیریت او د هغو په مسلکي، تخنیکي او له ټولو معیارونو سره سم استخراج کیږي. د هېواد په کچه د کوچنیو، منځنیو او ستر مقیاس ډېر شمېر کانونه د اسلامي امارت له لوري د وضع شویو قوانینو په رڼا کې په قرارداد ورکول کیږي او عواید یې په منظم او شفاف ډول د حکومت خزانې ته جمع کیږي. دغه راز د همدې کانونو د عوایدو پرمټ بیا د هېواد زیربناوې چې د یوه هېواد د پرمختګ او خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې اړینې دي، رغول کیږي. په دې تېرو شاوخوا پنځو کلونو کې د هېواد په کچه د سترو زېربنایي پروژو د چارو پیل او د ځینو یې پای ته رسېدل، د دې ادعا ښه ثبوت دی. دا مهال افغانستان د اوبو مدیریت، د لویو لارو جوړولو، د برېښنا د تولید پروژو د پیل او دې ته ورته نورو سکټورونو کې ترسره شوي کارونه، هغه څه دي چې کولای شي افغانستان له اقتصادي پلوه په پښو ودروي. دا چې صنعت د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځي، نو له همدې امله اسلامي امارت دې برخې ته خپله توجه اړولې او ورځ تر بلې د صنعتي فابریکو په شمېر کې زیاتوالی راځي. د اوسپنې ویلې کولو، درملو جوړولو، د بېلا بېلو توکو تولیدولو فابریکو د جوړېدو ترڅنګ اوسمهال د هېواد په کچه د سیمنټو صنعت ته هم پوره پاملرنه شوې ده. له دې ډول صنعتي فابریکو څخه یې ځینې اوس عملاً سیمنټ تولیدوي لکه د غوري او جبل السراج د سیمنټو فابریکې او د هېواد په یو شمیر ولایتونو کې د سیمنټو د تولیدي فابریکو د جوړېدو چارې روانې دي. له دې جملې څخه یوه هم د جوزجان ولایت د یتیم تاق د سیمنټو تولیدي فابریکه ده چې د جوړېدو چارې یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې. پر دې فابریکه ۷۷ ترکي شرکت ۱۶۰ میلیون ډالر پانګونه کوي، چې په ورځني ډول به ۳۰۰۰ ټنه سیمنټ تولید کړي. همدا چې یاده فابریکه د سیمنټو تولید پیل کړي، نو له دې سره به زموږ د سیمنټو په برخه کې شته اړتیاوې تر ډېره بریده پوره، داخلي صنعت به پیاوړی، هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره او تر ټولو مهمه دا چې له بهر څخه د سیمنټو پر وارداتو به مو تکیه راکمه شي. له یوه لوري به د سیمنټو په مقابل کې بهر ته د اسعارو مخه ونیول شي او له بل لوري به د دې صنعت په پراختیا او پرمختګ سره اقتصاد پیاوړی او هېواد به مو له وارداتي حالته د صادراتي او تولیدي اقتصاد په لور ګامونه پورته کړي.

## د امارتي ادارو د مکاتيبو او اداري اسنادو د مديريت برېښنايي سيستم تاييد شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشتې په نهمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت له لوري د امارتي ادارو د مکاتيبو او اداري اسنادو د مديريت برېښنايي سيستم د بحث لپاره وړاندې شو. له هراړخيزې ارزونې وروسته ياد سيستم تاييد او دغه وزارت ته يې په تدريجي ډول د تطبيق لارښوونه وشوه. د دې سيستم په تطبيق سره به د امارتي ادارو ترمنځ همغږي پياوړې، شفافيت، چټکتيا او امنيت به رامنځته، د جعل، فساد او د وخت د ضياع مخنيوی به ترسره، د دقيقو ارقامو او حساب ورکونې اصل به پياوړی او



د برېښنايي حکومتولۍ په لور به اساسي ګام واخيستل شي. په دغه سيستم کې د مراجعينو لپاره هم د پام وړ اسانتياوې په پام کې نيول شوې دي. همدارنګه دې غونډې ته د ۲۲ هغو عام المنفعه پروژو راپور هم وړاندې شو، چې د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري يې د کانونو د عوايدو په بدل کې د تطبيق حکمونه ورکړل شوي. د ۲۲ پروژو له جملې ماليې وزارت د ۱۳ پروژو اقتصادي تحليل ترسره کړی، چې د اقتصادي کمېسيون له لوري تاييد او لارښوونه ورته وشوه، چې دغه تحليل د کانونو او پټروليم وزارت سره شريک او اړوندې ادارې د يادو پروژو عملي چارې پيل کړي. په دې پروژو کې ساختماني، اوسپنې پټلۍ او د برېښنا رسونې او توزيع پروژې شاملې دي. د يادونې وړ ده چې د ۲۲ عام المنفعه پروژو له جملې د نهو پروژو عملي چارې پيل شوې، چې کاري پرمختګونه هم لري. د غونډې په پای کې د يوشمېر تعقيبي موضوعاتو راپورونه وړاندې شول، چې د اقتصادي کمېسيون له لوري تاييد او اړوندو ادارو ته يې د تطبيق په اړه سپارښتنې وشوې. يادې پرېکړې د نهايي تصميم نيونې په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

## تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۲،۸ ميلیارده افغانيو په لګښت ۱۹ پروژې منظورې کړې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشتې په لسمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره



سم ۲۶ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته د ۲،۸ ميلیارده افغانيو په ارزښت ۱۹ پروژې منظورې شوې او په څلورو پروژو کې بيا يولړ تعديلونه راغلل. همداراز د يوې پروژې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د پروژې تدارکاتي پروسه او قيمت بياځلې و ارزوي. همدارنګه د يوې پروژې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو په شرايطو د برابرو شرکتونو سره د پروژې په اړه د ورکړل شوو قيمتونو په اړه مذاکره وکړي او همداراز يوه پروژه بيا له دې امله بياځلې ازادې داوطلبۍ ته وړاندې شوه، چې ګټونکي شرکت يې په ټاکلي قيمت له تطبيق څخه انصراف کړی و. دغه شرکت د همدې سرغړونې له امله د محروميت کمېټې ته معرفي شو. په منظور شوو او تعديل شوو پروژو کې د مخابراتي وسايلو، سړک جوړونې، برېښنا رسونې او توزيع او يوشمېر نورو برخو پروژې شاملې دي، چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمويلېږي.

## د يتيم تاق سيمنټو توليدي فابريکې د جوړېدو چارو پرانيسته وشوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشتې په اوومه نېټه په جوزجان ولايت کې د يتيم تاق سيمنټو توليدي فابريکې د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د هېواد د اقتصادي ودې او په تدريجي توګه د توليدي اقتصاد پر لور د چټکو ګامونو اخيستو لپاره د کورني صنعت پياوړي کېدل او له کورنيو توليداتو ملاتړ مهم وبلل او د دې جدي اړتيا پر حل يې ټينګار وکړ. محترم ملا صاحب زياته کړه، د همدې لوی اساسي مسووليت د ادا کولو په دوام نن په جوزجان ولايت کې د دې مهمې فابريکې عملي چارې پيل شوې، چې دا به د داخلي صنعت په قوي کولو، پر وارداتو د تکيې کمولو او د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول ولوبوي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د افغانستان اسلامي امارت ټول تمرکز د داخلي صنعت پر پياوړتيا دی او هڅه کوي، چې د خامو موادو د صادرولو پر ځای د يادو موادو داخلي پروسس ته زمينه مساعده کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند يوځل بيا له نړيوالو وغوښتل چې د رسمي اقتصاد په چوکاټ کې له افغانستان سره تعامل پياوړی کړي او د بې ساري امنيتي او سياسي ثبات او بالقوه ظرفيت څخه ګټه واخلي. د هغه په خبره، د نړيوالې او سيمه ييزې سياسي او اقتصادي فضا تنګول، په نړيواله کچه د حذف سياست پلي کول او د تحريمونو اوږدول په هېڅ صورت د نړيوال سياست او نړيوال اقتصاد درد نه شي دوا کولی؛ بلکې برعکس دا ډول سياستونه تهديدونه زېږوي او د سيمه ييز او نړيوال مشارکت ونډه راکموي. په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ټولو هېوادوالو ته د دې فابريکې د جوړېدو مبارکي ووېله او له اړوندو ادارو او قراردادي شرکت څخه يې وغوښتل، چې کارونه يې په ښه کيفيت ترسره کړي. د يتيم تاق سيمنټو توليدي فابريکې د جوړېدو لپاره ۷۷ ترکي شرکت ۱۶۰ ميليون ډالر پانګونه کوي، چې په ورځني ډول به ۳۰۰۰ ټنه سيمنټ توليد او ۵۰۰۰ هېوادوالو ته به په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره کړي. د دې فابريکې د جوړېدو چارې به په دوه کلونو کې بشپړې شي.




## په فارياب کې د يو ميليارد او ۱۲۰ ميليون افغانيو په ارزښت د برېښنا درې پروژې پيل شوې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشتې په اتمه نېټه په فارياب ولايت کې د برېښنا د توزيع او انتقال درې پروژې پرانيستل شوې. په دې پروژو کې د فارياب ولايت له مرکزي سبسټېشن څخه تر بلچراغ او ګرزيوان ولسواليو پورې د ۱۱۰ کيلوولټ د برېښنا انتقالي لين غځول، په بلچراغ ولسوالۍ کې د ۲۰/۱۱۰ کيلوولټ سب سټېشن جوړول، د بلچراغ ولسوالۍ د ۱۸ او په پشتون کوټ ولسوالۍ کې د پنځه ميګا ولټ-امپير ظرفيت لرونکو ټرانسفارمرونو له لارې د برېښنا د توزيع شبکو پراخول شامل دي.



پر يادو پروژو يو ميليارد او ۱۲۰ ميليون افغانۍ لګښت راځي چې د اسلامي امارت له لوري يې مالي تمويل کېږي او ټاکل شوې، چې چارې به يې د خصوصي سکتور له لوري په دريو کلونو کې بشپړې شي. د يادو پروژو د چارو په بشپړېدو سره به د سيمې خلکو د برېښنا ستونزې راکمې او اسانتياوې به ورته رامنځته شي.

## د ګلبهار استوګنيز او سوداګريز ښارګوټي طرحه په پرنسيپ کې تاييد شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشــتې په پنځمه نېټه په مرمرينه مانۍ کې غونډه جوړه شوه. په غونډه کې د اړوندو ادارو له لوري د ګلبهار



استوګنيز او سوداګريز ښارګوټي د جوړولو پر طرحې بحث وشو. ياده طرحه د ښاري پراختيا او اقتصادي ارزښت په پام کې نيولو سره په پرنسيپ کې تاييد شوه او د تخنيکي مطالعاتو د ترسره کولو لپاره يې د اقتصادي معاونيت په مشرۍ کمېټه وټاکل شوه. کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې ټول تخنيکي، اقتصـادي، اجتماعي او د چاپيريال ســاتنې اړوند مســايلو په اړه يې تفصيلي کړنې ترسره او راپور يې په درېيو مياشــتو کې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت له محترم مقام سره شريک کړي.

د ګلبهار استوګنيز او ســوداګريز ښارګوټي د جوړولو لپاره خصوصي ســکټور د شــاوخوا اته ميليارده ډالرو پانګونې لېوالتيا ښــودلې، چې په ۱۱ زره جريبه ځمکه کې به جوړ او لســګونو زرو هېوادوالو ته به د سرېناه برابرولو ترڅنګ زرګونه کاري فرصتونه هم رامنځته کړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان لپاره د برېتانيا له ځانګړي استازي سره وکتل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پــه خپل کاري دفتر کې د افغانســتان لپاره د برېتانيا هېواد له ځانګړي استازي ريچارډ لينډزي سره وکتل. د دې ليدنې پرمهال د افغانســتان او نړيوالې ټولنې ترمنځ د همغږۍ او ګډو همکاريو پر پياوړي کولو او له افغانانو سره د برېتانيــا حکومت او ولس د بشري مرســتو پر ادامې خبرې وشوې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ووېل، اوسمهال د افغانستان اقتصادي وضعيت د پخوا په پرتله ډېر ښه شوی او له ســيمې او ګاونډيو هېوادونو سره اقتصادي همکارۍ پراخې شــوې دي. د افغانســتان لپاره د برېتانيا ځانګړي استازي ښاغلي لينډزي په دې وروستيو کې د پاکستاني رژيم په بريدونو کې د شهيد شــوو افغانانو په اړه خپله خواخوږي څرګنده کړه او ويې ويل چې د برېتانيا حکومت او ولس به له افغانانو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

## په کابل ښار کې د استوګنيز ښارګوټي او سوداګريزو مارکېټونو د جوړولو پر طرحو بحث وشو

د پانګونــې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتــي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمريــز کال د ثور مياشــتې په لومــړۍ نېټه په مرمرينه مانۍ کې ترسره شــوه. دې غونډې ته د کابل ښــار په لومړۍ ناحيه کې له سپاهي ګمنام څلورلارې تر جــاده ميوند او له جاده ميوند تر پل يک پيســه‌ګې پورې تر ځمکې لاندې د ســوداګريز مارکېټ، د کابل ښــار په لومړۍ ناحيه کــې د ســوداګريز مارکېټ او همدارنګه د کابل ښــار په اتمه ناحيه کې د طلايي ښارګوټي شا ته د کابل ښــاروالۍ پر ځمکه د استوګنيز ښــارګوټي د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. لــه بحث وروســته يادې طرحــې اړونــدو ادارو ته د تخنيکي او مالي ارزونو لپاره راجع شــوې او سپارښتنه ورته وشــوه، چې خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# په کابل، بلخ او جوزجان ولايتونو کې د سوداګريزو مارکېټونو د جوړولو پر طرحو بحث وشو

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټــې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشـــتې په اتمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د ماليې وزارت پر ځمکه، د بلخ ولايت په مرکز مزار شريف ښار په څلورمه ناحيه کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت پر ځمکه او د جوزجان ولايت په مرکز شبرغان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګريزو مارکېټونو د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

له بحث وروسته يادې طرحې د مالي، اقتصادي او تخنيکي ارزونو لپاره اړوندو ادارو ته راجع او سپارښتنه ورته وشوه، چې خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.







# اقتصـادي خبـرونه

## گسترش روابط اقتصادی افغانستان و چین؛ پافشاری بر کاهش هزینه‌های ترانزیتی

هیأت اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانسـتان در جریان سـفر کاری به چین، با مقام‌های بلندپایه اقتصادی و دیپلماتیک ولایت های شانگهای و زی‌جیانگ آن کشور دیدار کرده است. در نتیجه ی ایـن دیدارهـا، چندین تفاهم‌نامه‌ی هـم کاری در بخش‌های تجارت و سرمایه‌گذاری نیز به امضا رسیده است. رییس این اتاق با اشاره به پیوند تاریخی دو کشور، ابتکار "یک کمربند، یک راه" را فرصت مهمی برای رشد همکاری‌های منطقه‌ای دانسته و جاده ی ابریشـم را نماد مهـم اتصال اقتصادی افغانسـتان با منطقه عنوان کرده است. سخی احمد نورزاد، عضو هیات رهبری این اتـاق در این باره پافشـاری کـرد: «به‌دلیل بلند بـودن کرایه‌ی ترانسـپورتی خطآهن که از چین به مزارشریف می‌آید، درخواست داریم تا ۵۰ درصد تخفیف برای تاجران افغان در نظر گرفته شود تا اموال ما که از کشـورهای دیگر می‌رسـد، از سرگردانی نجات یابـد.» به‌گفته‌ی اتـاق تجارت و سرمایه‌گـذاری، این هیات در دیـدار بـا نمایندگـی وزارت خارجه‌ی چین در ولایـت زیجانګ، موضوع توسـعه‌ی ترانزیت، همکاری‌های ریلی، ویزه، برگزاری نمایشـگاه‌ها و ایجاد پروازهای مسـتقیم میان کابل و شهرهای چین را مطرح کرده است. مقام‌های چینی نیز در این نشست‌ها بر گسـترش پیوندهـای اقتصادی با افغانسـتان پافشـاری کرده و آمادگی خود را برای توسعه‌ی همکاری‌هـای عملی و دوامدار با بخش خصوصی افغانستان اعلام کرده‌اند. عبدالشکور هدءوال، آگاه اقتصادی، در این باره گفت: «اگر این تعهدات و قراردادها و این پیوندها عملی شـود، بدون شـک نه‌تنها اقتصاد افغانستان، بلکه اقتصاد کشـورهای دیگر نیز رشد خواهد کرد.» این سفر در حالی صورت می‌گیرد که افغانستان در تلاش برای گسترش پیوند اقتصادی و جـذب سرمایه‌گذاری‌های خارجی، به‌ویژه از سـوی چیـن، قـرار دارد. در سـال‌های اخیر، همکاری‌هـای تجاری و سرمایه‌گذاری میان دو کشـور روند رو به افزایشی داشته و حجم مبادلات تجارتی نیز به یک میلیارد دالر نزدیک شده است.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصــادي او ټولنیــزو مسایلــو په بــرخه کــې
د ریاســت الــوزراء اقتصــادي معاونیت پنځلــس ورځنۍ
ابادي
پنځلــس ورځنۍ

## بانک جهانی: اقتصاد افغانستان در ۲۰۲۶ چهار درصد رشد خواهد کرد

بانک جهانی در تازه‌ترین گزارش خود پیش‌بینی کرده اســت که اقتصاد افغانســتان در ســال ۲۰۲۶ حدود ۴ درصد رشد خواهد داشت؛ رشــدی که به گفته این نهاد، ناشی از تقویت تقاضای داخلی، افزایش سرمایه‌گذاری بخــش خصوصی و جذب بهتر بازگشت‌کنندگان در بازار کار خواهد بود. با این حال، این گزارش هشدار می‌دهد که ادامه درگیری‌ها در خاورمیانه می‌تواند تهدیدی جدی برای اقتصاد افغانستان باشد. در گزارش آمده است: «ادامه درگیری‌ها در خاورمیانه یک خطر عمده به‌شمار می‌رود، زیرا می تواند از طریق اختلال در تجارت و افزایش جریان‌های مهاجرتی تأثیر منفی بگذارد.» بانک جهانی تأکید کرده که وابستگی قابل




توجه تجارت افغانســتان به مسیر ایران می‌تواند در صورت بسته شدن این دهلیز، رشد اقتصادی را کاهش داده و تورم را افزایش دهد. در گزارش افزوده شده است: «با توجه به این‌که حدود ۶۰ درصد از تجارت افغانستان از مسیر جمهوری اسلامی ایران انجام می‌شود، بسته شــدن این دهلیز می‌تواند رشد سالانه اقتصاد را کاهش داده و تورم را افزایش دهد، هرچند تغییر مســیر تجارت ممکن است بخشی از این اثرات را جبران کند.» بر بنیاد گزارش، تولید ناخالص داخلی در این سال حدود ۴,۸ درصد رشد داشته که عمدتاً ناشی از افزایش مصرف بخش خصوصی و احیای فعالیت های غیرزراعتی بوده اســت. با این وجود، رشد سریع جمعیت و افزایش تورم باعث شده است که تولید ناخالص داخلی سرانه ۵,٦ درصــد کاهش یابــد. در ادامه ایــن گزارش آمــده که اقتصاد افغانســتان در ســال ۲۰۲۵ با مجموعه‌ای از شوک‌های شدید خارجی روبه‌رو بوده است؛ از جمله کاهش چشم‌گیر کمک‌های خارجی، بسته ماندن طولانی‌مدت بنادر با پاکستان، خشکسالی، زمین‌لرزه‌ها و بازگشت گسترده مهاجران از ایران و پاکستان. این عوامل در مجموع باعث افزایش حدود ۱۱ درصدی جمعیت شده که عمدتاً ناشی از مهاجرت خالص بوده و فشار بیشتری بر ساختار اقتصادی کشور وارد کرده است.



## ضرورت و ارزش اقتصادی کوتاه‌سازی روند
# اخذ جواز ساختمانی

نجیب الله مایار

### مقدمه

شهر کابل پرجمعیت‌ترین شهر افغانستان است که در سال های اخیر به‌دلیل افزایش سریع نفوس، بی‌جاشــدگی‌های داخلی، بازگشــت مهاجرین و گســترش شهری، با مشکل جدی کمبود مســکن مواجه شده است. یکی از عوامل مهم این مشــکل، طولانی، پیچیــده و بروکراتیــک بودن روند دریافت جواز ساختمانی بود که به‌سبب آن، برای چندین سال جوازهای ساخت‌وساز صادر نمی‌شد. رهبری امارت اسلامی به‌منظور حل این مشکل، میان ریاست اداره امور، اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی و شاروالی کابل، تفاهم‌نامه ای را برای ساده‌سازی و تسهیل این روند به امضاء رساند که بر اساس آن، ســهولت‌های قابل ملاحظه‌ای در این پروسه ایجاد شده اســت. این اقدام اساسی می‌تواند به‌عنوان یک تحول مهم در اقتصاد شهری تلقی گردد که در ادامه به‌گونه مختصر به آن پرداخته می‌شود.

### نگاهی کوتاه به سیستم اخذ جواز ساختمانی

در شــهر کابــل، کارهای ســاختمانی طی چند ســال گذشته کند شــده و حتی متوقف گردیده بود. پیش از امارت اســلامی، روند دریافت جواز ساختمانی در کابل بســیار طولانی بود. این وضعیت از یک‌سو سبب ضایع شدن وقت مردم می‌شــد و از سوی دیگر زمینه را برای فســاد اداری و مالی فراهم کرده بود. بر اســاس روند قبلی، پروسه اخذ جواز ســاختمانی دارای ۴۵۵ مرحله بــود و متقاضیان مجبور بودنــد تمام این مراحل را طی کنند که حداقل ۳۸۹ روز (نزدیک به یک ســال) زمان می گرفت.

افزون بر این، این روند بسیار پیچیده نیز بود که باعث شــده بود مردم از دریافت جواز قانونی دلسرد شوند،



ساخت‌وساز‌های غیرقانونی افزایش یابد، سرمایه گذاری کاهش پیدا کند و روند توسعه شهری بطی گردد. در نتیجه، کمبود مسکن افزایش یافت و قیمت کرایه‌ها به‌گونه قابل ملاحظه بالا رفت. این وضعیت فشار اقتصادی بر مردم را افزایش داده و مشکل مسکن را به‌خصوص برای قشر متوسط و کم‌درآمد به یک چالش جدی تبدیل کرده بود. زیرا ساختمان‌های جدید ساخته نمی‌شد، تعداد خانه‌ها محدود بود و نیاز مردم روزبه‌روز بیشتر می‌شد. امارت اسلامی به‌منظور حل این مشکل، روند اخذ جواز ساختمانی را ساده و به طور چشمگیر کوتاه ساخت. بر اساس توافق اخیر میان ریاست اداره امور و شاروالی کابل، مراحل اخذ جواز ساختمانی از ۴۵۵ مرحله به ۶۹ مرحله کاهش یافته و زمان صدور جواز نیز از ۳۸۹ روز به ۲۰ روز تقلیل یافته است. این تغییر بزرگ سبب تسریع روند صدور جواز، کاهش بروکراسی و افزایش شفافیت شده است. در نتیجه، انتظار می‌رود فعالیت‌های سکتور ساختمانی دوباره رونق گیرد، سرمایه‌گذاری در این بخش افزایش یابد، فعالیت شرکت‌های ساختمانی گسترش پیدا کند و زمینه‌های کاری بیشتری برای مردم در بخش ساختمانی فراهم شود.

## ارزش اقتصادی کوتاه‌سازی روند اخذ جواز ساختمانی

پروسه‌های اداری از جمله عوامل مهم در پیشرفت اقتصادی هر کشور به‌شمار می‌روند. زمانی که خدمات دولتی ساده، سریع و شفاف باشد، سرمایه‌گذاری افزایش می‌یابد، فعالیت های اقتصادی گسترش پیدا می کند و اعتماد مردم نسبت به نظام بیشتر می‌شود. کوتاه‌شدن روند دریافت جواز ساختمانی در شهر کابل یک تحول اساسی و مهم برای رشد اقتصادی محسوب می‌شود. زیرا وقتی صدور جواز ساختمانی آسان گردد، از ضایع‌شدن وقت و افزایش هزینه‌ها جلوگیری می شود. با کوتاه‌سازی و شفاف‌سازی روند اخذ جواز، میزان شفافیت افزایش می‌یابد و هر سرمایه‌گذار با اطمینان بیشتری در این بخش سرمایه‌گذاری می کند، زیرا احساس خطر کاهش می‌یابد. ساده‌سازی پروسه‌ها سبب گسترش فعالیت های سکتور ساختمانی می‌شود، شرکت‌ها کارهای عملی خود را آغاز می‌کنند و نیاز به مواد ساختمانی افزایش می‌یابد که این امر بر بازار نیز تأثیر مثبت می گذارد. زیرا در هر پروژه ساختمانی، انجنیران، کارگران، ماشین‌آلات و وسایط مختلف مصروف کار می‌شوند که این وضعیت برای جامعه بسیار مفید است. با آغاز ساخت خانه‌های جدید، عرضه مسکن افزایش یافته و یکی از مشکلات جدی مردم در کوتاه‌مدت کاهش یافته و در درازمدت حل خواهد شد. یکی دیگر از مزایای مهم این اقدام، جلوگیری از فساد گوناگون است؛ زیرا پروسه‌های طولانی معمولاً زمینه‌ساز فساد می‌شوند، در حالی‌که با کوتاه شدن روند، مداخلات غیرضروری کاهش یافته و شفافیت بیشتر تأمین می گردد.

## نتیجه گیری

اقدام امارت اسلامی افغانستان در کوتاه‌سازی روند اخذ جواز ساختمانی در شهر کابل، یک گام اداری مهم و تاریخی به‌شمار می‌رود که برای مشکلی چندین‌ساله راه‌حل عملی ارائه کرده است. کاهش این روند از ۳۸۹ روز به ۲۰ روز نه‌تنها بیانگر سرعت‌بخشیدن به خدمات است، بلکه تغییرات مثبت را در تمام بخش‌های اقتصادی، اجتماعی و زندگی شهری به‌همراه دارد. این اقدام می‌تواند مشکل کمبود مسکن را کاهش دهد، اندازه کرایه‌ها را متعادل سازد، میزان سرمایه‌گذاری را افزایش دهد و شهر کابل را به یک شهر منظم، عصری و قابل زیست تبدیل کند. کوتاه‌سازی روند اخذ جواز ساختمانی تنها یک تغییر اداری نیست، بلکه یک تحول اقتصادی محسوب می‌شود. این تغییر موجب افزایش سرمایه‌گذاری، گسترش فرصت‌های کاری، افزایش عرضه مسکن، بالا رفتن عواید دولت و فعال‌شدن اقتصاد شهری می گردد. به‌خصوص در شهر کابل که کمبود مسکن و بلند بودن کرایه‌ها یک مشکل جدی است، این اصلاحات می‌تواند توازن را در بازار ایجاد کرده و فشار اقتصادی بر مردم را کاهش دهد. بنابراین، می‌توان گفت که ساده‌سازی پروسه‌های اداری یک شرط اساسی برای پیشرفت اقتصادی است و تسهیل روند جواز ساختمانی نمونه عملی این اصل به‌شمار می‌رود.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۴,۳۰ | ؋۶۴,۳۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۲۴ | ؋۲۲۵ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰,۳۵ | ؋۰,۳۶ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۴,۲۰ | ؋۷۴,۴۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۵ | ؋۰,۸۵ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۴۶ | ؋۷۴۴ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۸۴,۸۰ | ؋۸۵ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۷,۱۴ | ؋۱۷,۱۵ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۷,۵۱ | ؋۱۷,۵۲ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۴۱ | ؋۹,۴۲ |



# SPEECH

## BY THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS

## AT THE INAUGURATION CEREMONY OF THE YATIM TAQ CEMENT PLANT CONSTRUCTION WORKS



In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.

Honorable Governor of Jawzjan Province, Honorable Deputy PM for Administrative Affairs, Head of the Construction Company 77, representatives of the media, respected elders, distinguished guests, and all respected attendees:

Assalamu Alaikum wa Rahmatullahi wa Barakatuh!

It is a great pleasure to join you today in Jawzjan Province at the ceremony marking the commencement of practical works for the large and significant Yatim Taq Cement Project. First and foremost, I extend my congratulations to the entire people of Afghanistan on the launch of this important project.

Respected participants!

For the country's economic growth and the achievement of long-term economic objectives, it is essential that we gradually take accelerated steps from a consumption-based economy toward a production-based economy; strengthen domestic industry; and formulate and implement appropriate policies to support local production. This is not merely a desire or an aspiration—it is a serious necessity, and addressing it is considered a major responsibility.

In continuation of fulfilling this fundamental responsibility, we are gathered here today in Jawzjan Province for the inauguration of the practical works of this important cement production project.

For the completion of this project, the Construction Company 77 will invest a total of USD 160 million. The plant will produce 3,000 tons of cement per day and will create employment opportunities for 5,000 people, both directly and indirectly. The project is expected to be completed within approximately two years and handed over for operation.

Dear compatriots!

This project will play a significant role in strengthening domestic industry, reducing reliance on imports, and contributing to the country's economic growth. It will prevent the outflow of foreign currency, ensure effective utilization of raw materials within the country, generate numerous employment opportunities, and support the development of construction activities and infrastructure. The Islamic Emirate of Afghanistan is fully focused on strengthening domestic industry, and we are working day and night to create conditions for processing raw materials inside the country instead of exporting them, while managing national resources in line with the principle of sustainable development.

Respected participants!

Narrowing the global and regional political and economic space, implementing policies of exclusion at the international level, and prolonging sanctions cannot in any way resolve the challenges of global politics and the global economy. On the contrary, such policies generate threats and reduce opportunities for regional and international cooperation.

Therefore, we call on the world to strengthen engagement with Afghanistan within the framework of the formal economy and to take advantage of the unprecedented security, political stability, and potential capacity.

In conclusion, I emphasize that all responsible parties involved in this important national project must carry out their duties with full attention and in accordance with accepted standards, while all relevant authorities and institutions should facilitate and expedite its implementation.

Wa Assalamu Alaikum wa Rahmatullahi wa Barakatuh.